محمد هارون خپل شعشعی

۳۱ مارچ ۲۰۱۲

## د
## علی محمد مخلص
## عرفانی فرهنگ
### د محمد هارون خپل شعشعی
### لیکنه او څیرنه
### ۴۳

**۱۰۴- روح :**

د روح عربي ټکی د « ر » په پيښ، له لغوي پلوه ساه، ارواء، د ژوند تومني، وحي، د خدای تعالی امر او فرمان، لومړني عقل او د خدای تعالی مقربي ملايکي يا پريشتي/ پريښتي ( جبرئيل امين) ته وايي[۱]؛ خو روح د « ر » په زَورکي ورمي، خوشبويي، تاز ګي، استراحت، هوساينی، دمي کولو، رحمت، مهرباني، خوښی او بري ته ويل کيږي[۲]. په عربي کي د اروا دپاره،په عمومي ډول دوه ټکي کاريږي . يو يي « روح » او بل يي « نَفَس » دئ . په داسي حال کي ، چي دا دوه ټکي زياتره د مترادفو ټکو په شان يود بل پر ځای استعماليږي،کله کله يي تر منځ څه نا څه توپير هم ليدل کيږي . کله چي اروا په انساني وجودکي يي(وي)، هغه ته نَفَس ( د « ن » او « ف » په زَوَر) وايي؛ اوکله چي له وجود څخه جلا سي، بيا نو د « روح » خطاب ورته کيي(وکوي)[۳] . په هره ژبه او هر کلتور/کولتور کي اروا د انسان په فزيکي او مانوي ( معنوي) جوړښت کي د وجود تر ټولو لوړه او سپيڅلي برخه ګڼله کيږي .

روح د اروا پوهني ( سايکالوجي/ سايکالوژی) په شان، په اسلامي تصوف او عرفان کي هم يوه مهمه او اساسي مسأله ده . صوفيانو او عارفانو له پيريو پيريو راهيسي د اروا د پيچلي او مرموزي مسألي په اړه، اوږدي څيړني اوپلټني کړي دي . ځينو عارفانو د روح بقأ، لويوالي او نورو پټو ځانګړتياوو ته په پام کولو سره د يوی بېلي عرفاني اصطلاح يادونه هم کړی ده، چي د « اروا/ ارواح عالم » يي بولي ؛ او مقصد يي همغه د ملکوت جهان دئ، چي د« زړه عالم »، « نوراني عالم »،« د مانا عالم » او داسي په نورو په نامه هم ياد سوئ دئ . په « فرهنګ لغات و تعبيرات عرفاني » کي د روح مقصد انساني اروا بلل سوئ دئ، چي په کنايي

سره رحماني نَفَس او د حق تعالی تجلاووته اشاره ده[۴]. د همدي عرفاني قاموس، په یو بل ځای کي روح هغه القأ ګاني ګڼلي سوي دي، چي د غیب له عالَمه په ځانګړي ډول زړه ته رسیږي[۵].

د اروا دېپچلي او مرموزي پدیدې په باب د تصوف او عرفان په کړییوکي بېلابېلي نظریي وړاندي سوي دي . د ځینو له نظره، روح د امر او بقأ د عالَم ساده جوهر دئ . ځیني نور روح د اور، هوا، خاوري، اوبو او غاز له عناصرو جوړه غریزي تودوخه، یخوالی، وینه، خوی او یا د دې ټولو یوه برخه ګڼي . وروستیيو حکیمانو، اروا هغه جوهر بللئ دئ، چي په ذات کي خپلواکه ده؛ خو په فعل کي مادي ته اړتیا لري؛ او په جسمو او اجسادو پوري اړه لري . ځیني نور بیا، روح هغه خپلواک او پر ځان ولاړ جوهر بولي، چي له مرګ او نابودی څخه ژغورلئ دئ؛ او په تصرف او تدبیر کي داسي روحاني جوهر ته اړتیا لري، چي روحانیت یي تر ده لږ یي[۶] .

د اروا په باب، د اسلامي تصوف او عرفان د مخکښو مفکرانو فلسفي اوعرفاني نظریي، تر ډېري ګچي له اسلامي نصوصو په تېره بیا قرآني آیتو څخه الهام اخلي؛ د مثال په توګه، د اسراء ( بني اسراییل) د سورې د پینځه اتیایم آیت ( ۱۷: ۸۵) په لومړی برخه کي د اروایه اړه د اسلام ستر پیغمبر - حضرت محمد( ص) ته داسي لارښوونه سوي ده : « و یسلونک عن الروح قل الروح من امر ربی . . . » یاني که د روح په باب پوښتنه در څخه وکي، ورته ووایه چي روح زما د څښتن یو امر دئ . د شورا د سورې په دوپینځوسم آیت ( ۴۲: ۵۲) کي بیا د روح مسألي ته داسي اشاره سوي ده : « و کذالک اوحینا الیک روحا من امرنا » یاني لکه څنګه چي مو نورو انبیاوو ته وحي لیږلي وه، تا ته ( اي محمده! ) مو هم په خپل امر سره، روح در ولیږله . د نحل د سورې د دوهم آیت ( ۱۶: ۲) په اوله برخه کي هم د روح موضوع بیان سوي ده : « ینزل الملئکة بالروح من امره علی من یشأء من عباده . . . » یاني (الله) په خپلو بندګانو( انبیاوو) کي هرهغه چا ته چي وغواړي ،په خپل امر له روح ( وحي) سره پریشتي لیږي . دغه راز د مؤمن د سورې د پینځلسم آیت ( ۴۰: ۱۵ ) په یوه برخه ( . . . یلقی الروح من امره علی من یشأء من عباده ) کي بیاهم په خپل امر او ارادي سره خپلو غوره سوو بند ګانو ته، د الهي روح ( وحي) د لیږلومسأله بیان سوي ده . د سجدې د سورې د نم ( نهم) آیت ( ۳۲ : ۹) په یوه برخه او د حجر د سورې په نه ویشتم آیت ( ۱۵ : ۲۹) کي د حضرت آدم ( ع) په کالبوت کي دالله سبحانه و تعالی له خوا د اروا د پوکېدو مسألي ته اشاره سوي ده . لکه څنګه چي لیدل کیږي، اسلامي مفسرانو په یاد سوو آیتوکي د روح ټکی د قرآني وحي، الهي فرمان یا مقربي پریشتي( جبرییل امین)، په مفهوم تفسیر کړئ دئ .

په اسلامي تصوف او عرفان کي اروا د ژوندنیيو موجوداتو د ژوند او بقأ سرچینه ده . بې روح وجود د هغه مړه لاش په څېر دئ، چي له خاورو جوړ سوئ؛ او بیرته خاورو ته ځي . دا مسأله د سپېڅلي قرآن د طاها د سورې په پینځه پنځوسم آیت ( ۲۰ : ۵۵) کي داسي بیان سوي ده : « منها خلقنکم و فیها نعیدکم و منها نخرجکم تارة اخری » یاني تاسي مو له خاوري پیدا کړي یاست؛ د مړیني پر مهال مو په همدې خاورو ننباسو؛ او دوهم پلا مو ( تر مړیني وروسته ژوندانه دپاره) له دې خاورو څخه راباسو . د زمر دسورې په دوڅلوېښتم آیت کي د جاري او مقیم روح مفهومونه بیان سوي دي .

د رسول الله ( ص ) په یوه حدیث ( الا روح جنود مجندة فما تعارف منها ایئتلف و ما تناکر منها اختلف) کي روح داسي لښکر ګڼل سوئ دئ، چي اشنا کسان په کښي یوله بله مینه کیي؛ خو نا اشنا خلګ یوله بله لیري اوسي .

د حضر ت علي کرم الله وجهه له وینا سره سم، د خوب پر مهال د انسان اروا د ځانګړو وړانګو په مرسته له بدن سره اړیکی لري . هغه، دا اړیکی له مخکي سره د لمر د هغو وړانګو په څېرګڼي، چي له میلیونو

میلو واښن سره سره بیا هم مځکي ته را رسېږي؛ له مځکي سره نبغ په نېغه اړېکی لري؛ او د هغي پر مخ ټولو موجوداتو ته رونا او تودوخه بخښي[۷] .

نومیالی عارف - ابوالحسن علي بن عثمان هجویري ( په ۴۶۵ هـ ق کي مړ) په خپل مشهور عرفاني اثر « کشف المحجوب » کي، روح د خدای تعالی په امر داسي جوهر بولي، چي ټول موجودات یې په مرسته ژوند کيي . وروسته د طریقت د نورو مشایخو په استناد لیکي، چي د اروا اصل او ذات حقیقت دئ نه صفت؛ په هستي کي یې هیڅ شک او گومان نسته؛ خو په څرنگوالي کي(کي یې) اختلافونه دي[۸] . د شېخ هجویري له عرفاني نظریې سره سم، اروا تر هغه مهاله ژوندی یې، چي د ژوندیو مخلوقاتو په ځان کي یې . شېخ هجویري پر جاري روح سربېره د اروا د نورو ډولو په باب خبري نه دي کړي .

د اسلامي تصوف اوعرفان نامتولاربنود - شېخ فریدالدین عطار (۵۴۰ - ۶۱۸ هـ ق) په خپله « مصیبت نامه » کي روح د عرفاني سالک وروستی منزل بولي، چي د زړه تر منزل وروسته پیل کیږي . هغه، اروا ته « د مطلق جهان سا »، « د رحمان دم » او « د حق تعالی پو » په عرفاني نومو هم یادونه کړي ده :

« سالکان را آخرین منزل تویی
صد جهان در صد جهان حاصل تویی
چون توهم جان جهان مطلقی
هم دم رحمان هم نفخ حقی[۹] »

د شېخ عطار په اند، روح هغه عقاب دئ، چي په اسمانو کي چکرونه وهي؛ او د قاف د غره پر لوړو څوکو استوگه لري . تعبیر او پېژندنه یې گرانه ده . د مکاشفي هغو خاوندانو هم له نخښو او اشارو پرته، اروا په څرگند ډول نه ده تعبیر کړي، چي د نْ◌ْفس له بندگی اوعبادت څخه وتلي دي . شېخ عطار، د اسلامي تصوف او عرفان د نورو مخکښو صاحب نظرانو په وینا، روح هغه جوهر گڼي، چي د الله تعالی د ستر او ناپایه بحر له تله را وتلئ دئ[۱۰] . هغه، د اروا پېژندنه، په لنډه توگه د جانان ( رب العالمین) پېژندنه بولي . د شېخ عطار له نظره، د عقل په مرسته د اروا پېژندنه، ستونزمن کار دئ؛ ځکه هر زړه، جانان ته د رسېدو وړتیا او وس نه لري[۱۱] .

د اسلامي تصوف او عرفان وتلی او منلی شېخ - محی الدین ابن عربي ( ۵۶۰ - ۶۳۸ هـ ق) په خپل مشهور عرفاني اثر « فتوحات مکیه » کي د اروا د پېچلي فلسفي اوعرفاني مسألي په باب ژوري خبري لري . د ده په عقیده، انساني روح د ساوو یوه برخه ده . له دي امله، له هر ځایه په تېرېدو سره خپله نښه نښانه پرېږدي . لوی شېخ - ابن عربي، استدلال کيي اروا هم د باد یا هوا په څېر ده، چي له هر معطر شي سره د نیژدېوالي په وجه، خوشبویي مومي؛ او له ځانه سره خوشبویه وږمه لېږدیي؛ دغه راز د ورروست او بدبویه شي تر څنگ په تېرېدو سره، بدبویي او تعفن لېږدیي . د همدی استدلال له مخي، خلگ بېلابېلي ارواي لري . سپېڅلي اروا، په داسي سپېڅلي کالبوت کي یې، چي تل له شرکه ژغورلي یې؛ او هیڅکله یې په وجود کي ناوړوعملو ته ځای نه یې ورکړئ؛ لکه د انبیاوو، اولیاوو اوپریښتو ارواي . د دي پرخلاف، خبیثه یا پلیته اروا په هغه پلیت وجود کي ځاله کړي یې، چي تل د شرک او بدو خویو په ناروغی ککړ یي . د لوی شېخ - ابن عربي په عقیده، د وجود په ختِه او منشأ کي د بېلابېلو طبیعتو یا څلورگونو اخلاطو د بري او واکمنی څرنگوالی د روح د خوشبویی، ښه والي او نېکو اخلاقو د رامنځ ته کېدو شرطونه او امکانات برابریي . ابن عربي، د انساني اروا سلامتي او ژغورنه په اخلاقي مکارمو؛ او ناروغي یې په ناوړه خویوکي ویني . د ده په اند، د اروا دا ځانگړتیا پر بېلابېلو بنیښنو باندي د

لمرینو وړانګو له ځلېدو سره ورته والی لري، چي د ډول ډول رنګو په بڼه څرګندیږي . د ښیښوپر مخ د بېلابېلو رنګو دا ځلا، د نور د لطافت له امله ده، چي په چټکی سره د ښیښه يي شیانو پر مخ انعکاس مومي . ابن عربي، استدلال کیي، چي هوا تر ټولو ځواکمن او پیاوړی شی دئ . څرنګه چي، اروا هم د هوا په څېر سا یا نَفَس دئ، ځکه نو په اروا کي هم قوه او ځواک نغښتی دئ . دغه ځواک یا قوت د اروا، اصل او منشأ ده . د روح کمزوري د بدن د طبیعي خویو له امله ده[۱۲].

شېخ المشایخ - شهاب الدین سهروردي (۵۳۹ - ۶۳۲ هـ ق) حیواني اروا د نفس په نامه یادبي، چي د حیواناتو د اروا په شان ده؛ او په کښته عالَم اړه لري؛ خو انساني روح ته، چي په لوړ عالَم اړه لري؛ او د ملایکه جوهرو له ډلي څخه ده، د روح خطاب کیي[۱۵].

د اسلامي تصوف او عرفان نامتو نظریه پرداز - شېخ عزیزالدین بن محمد نسفي(۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق) هم د روح د مرموزي دونیا او د هغې د ډولوپه باب خورا په زړه پوري فلسفي او عرفاني نظر يي لري . د ده په نظر، روح هغه ساده او لطیف جوهر دئ، چي د وېش او تجزیي وړ نه دئ؛ او د جسم د خوځونکي یا محرکه قوې په توګه کار کیي. شېخ نسفي، انساني روح ژوندی، پوه، د ارادې او واک څښتنه، اورېدونکي، لیدونکي او ویونکي ګڼي[۱۳] . دده په نظر، د انسان د پیداښت پیل یو جوهر دئ . د انسان ټولي ځانګړتیاوي په همدې جوهر کي نغښتي دي؛ هر خوی او هره ځانګړتیا پر خپل وخت ښکاره کیږي . دا جوهر د انسان نُطفه ده . د انسان نُطفه هم کاتب، هم قلم، هم کاغذ، هم میشوانی، هم لیک او لوستونکي ده . د انسان نطفه دکوچني عالَم لومړنی جوهر،د کوچني عالَم ذات او د دغه عالم زړه دئ . د عشق عالَم هم همدغه کوچنی عالم دئ . نطفه پر ځان عاشقه ده . غواړي خپل ښایست، نومونه او صفتونه وګوري . له دې امله، د اجمال له عالَمه د تفصیل و عالم ته ګام پورته کیي . د نطفي په نامه دا جوهر تر بشپړتیا او پرمختګ وروسته په څلورو عناصرو او څلورو طبیعتو واوښتئ[۱۴] . د عناصرو اوطبیعتو تر بشپړتیا وروسته د کانو، بوټو او ژوو درې موالید پیدا سوه . د تصوف ځیني پلویان، د انسان بدو اخلاقو او ناوړو خویو ته د نْفْس( د « ن » او « ف » په سکون) یا نوس خطاب کیي؛ حال دا چي د انسان ښه اخلاق او نېک صفتونه، د روح په نامه یادیي . شېخ نسفي، په خپلو څېړنوکي د ارواوو د دغو ډولو یادونه کیي :

- جمادي روح : پر دې اروا، د جماداتو ژوند ولاړ دئ؛ او د ارواوو د تکامل او بشپړتیا یوه مرتبه ده[۱۶].

- نباتي روح : هغه اروا ده، چي د مور په نس کي، د نوي پیداسوي موجود د بدن و بېلابېلو برخو ته خواړه رسیي . د دې روح ځای اینه/ ینه ده، چي د وجود په ښی خوا کي پرته ده . دا روح هم د غړو او اورګانو تر بشپړتیا وروسته پیداکیږي . شېخ نسفي، دا اروا ښیینه او جوهر ګڼي . له دې کبله،په طبیعي ډول د جسم بشپړونکي او خوځونکي ده[۱۷].

- حیواني روح : کله چي نباتي اروا پیاوړي سي؛ معده او اِینه قوت واخلي؛ او د خوړو د هضمولو وس ومومي؛ زړه نباتي روح په ځان کي جذبیي؛ او په دې ډول، د ژوند یو نوی پړاو پیل کیږي . په زړه کي د ژوند د دغه جوهر چکیدې او دوښا ته، حیواني روح وایي . حیواني اروا د څراغ د پلیتي په څېر ده . حیواني اروا کولای سي جزییات، ګټه او زیان و پېژني . دا اروا داسي جوهر دئ، چي بې اختیاره، جسم ته بشپړتیا او تحرک وربخښي[۱۸] .

- نفساني روح : کله چي د حيواني روح شيره او عُصاره پياوړتيا ومومي، د هغه جوهر او خُلاصه په دماغ کي جذبيږي؛ او يوه نوي پر مختللي پړاو ته رسيږي، چي نفساني روح ورته وايي . نفساني اروا، د اعصابو له لاري د وجود ټولو غړو ته رسيږي؛ او په دې ډول په ګردو غړوکي حسي او ارادي خوځښت پيدا کيي . نفساني اروا، له غړو سره ورته والی لري . دا لطيف او پاک غوړي تر هر ډول اور اخيستني مخکي هڅه کيي، چي په عيني توګه د شيانو حکمت او حقيقت ووينې . شېخ نسفي، د نور د سورې د پينځه ويشتم آيت ( ۲۴ : ۳۵) د يوې برخي « . . . يکادزيتها يضئ و لولم تمسسه نار۱۹ . . . » په استناد باور څرګنديي، چي انساني اروا نور دئ . کله چي اور ( انساني اروا) له غوړو سره يوځای سي نو په « نورعلی نور » واوړي . شېخ نسفي، د همدې آيت د يوې بلي برخي « . . . يهدی الله لنوره من يشاء ۲۰. . . » پر بنسټ استدلال کيي، هغه وخت چي الهي نور له انساني روح سره ملګری سو، هر څه د نور او روڼا بڼه غوره کړه۲۱.

د شېخ نسفي د عرفاني ډکتورينو له مخي، په دماغ کي پيدا سوې اروا مدرکه او محرکه ځانګړتياوي لري . د ده په نظر، د نفساني روح ادراک پر دوه ډوله دئ : ظاهري او باطني . ظاهري حواس لکه : اروېدل، ليدل، بوييول، خوند کتل، او لمسول . باطني حسونه لکه : ګډ حس، خيال، ښيره، حافظه او متصرفه . په ګډ يا مشترک حس کي مسموعات، مسطرات، مسمومات، مذوقات او ملموسات شامل دي۲۲.

- انساني روح : انسان په نباتي، حيواني او نفساني ارواوو کي له نورو حيواناتو سره شريک دئ . هغه څه چي انسان له نورو ژوو څخه بېليي، د ده انساني روح ده . انساني روح د علوي عالَم يوه برخه ده . په داسي حال کي، چي نباتي، حيواني او نفساني ارواوي، په سفلي عالَم پوري اړه لري . انساني اروا، د جزيياتو او کُلياتو، ګټي او تاوان پر پېژندني سربېره، ډېره ګټوره او زيان رسوونکي ده . انساني اروا ژوندی، پوه، ځواکمنه، هوډ لرونکي، اورېدونکي، ليدونکي او خبري کوونکي ده . انسان روح، د وېشلو وړ نه ده . د پوهي پر مهال په هر څه پوه ده؛ د ليدو پر وخت ټوله کتونکي ده؛ او د اورېدو پر وخت ګرده اورېدونکي ده .

شېخ نسفي، په خپل بل عرفاني اثر « زبدة الحقايق » کي پر نباتي، حيواني، نفساني او انساني روح سربېره، د قدسي اروا په نامه، د يوې بلي اروا يادونه هم کيي . د ده په عقيده، انساني او قدسي ارواي، په علوي عالَم پوري اړه لري؛ حال دا چي لومړنی درې ارواوي په سفلي يا کښته عالَم پوري اړه لري۲۳ . دی وروسته کاږي، چي روح او جسم تر بېلېدو وروسته، و خپلو جلا جلا عالموته ځي . روح و خپل کُل ته ستنيږي، چي هغه د ارواح عالم دئ؛ جسم هم خپل کُل ته ستنيږي، چي هغه د جسموعالَم دئ . ياني نور له نور او تياره له تياري سره يوځای کيږي . « کل شيء يرجع الی اصله۲۴ . » شېخ نسفي، وروسته د اروا په باب، د بېلابېلو فکري ډلو د نظريو په لړ کي ليکي : « د شريعت پلويان وايي، چي د انسانانو ارواوي، د هغوی تر جسمو مخکي په بالفعل ډول موجودي وې . د حکمت پلويان وايي، چي د انسانانو نفسونه د هغوی تر جسمو يا کالبوتو مخکي په بالفعل ډول نه يي پيدا سوي؛ خو په بالقوه ډول موجود يي۲۵ . »

شېخ نسفي، په تصوفي او عرفاني کړيبو کي دې پوښتني ته، چي ايا انساني روح د انسان په بدن کي ده، که يې له بدن څخه دباندي؟ د اختلافي جواب يادونه کيي . د ده له وينا سره سم، د شريعت پلويان عقيده لري، چي انساني اروا لکه غوړ په شيدوکي، د انسان په وجود کي دننه ځای لري . د حکمت پلويانو څرګنده کړې ده، چي انساني روح نه په انسان کي دننه او نه هم له تر هغه دباندي ده . د دوی د نظريو له مخي، ناطقه نفس په مکان کي نه دئ؛ او نه هم مکان ته اړتيا لري؛ ځکه دننه او دباندي دواړه د جسمو صفتونه دي؛ په داسي حال کي، چي ناطقه نفس، جسماني موجود نه دئ . ټول عرفاني مفکران د نباتي، حيواني او نفساني ارواوو په اړه، پر دې خبره

یوه خوله دي، چي دا ټولي ارواوي د خوړو د شیرې او عصارې په توګه، په بدن کي دننه ځای لري . د شېخ نسفي په عقیده، که وویل سي چي انساني اروا د خوړو هغه زُبده او چیکده ده، چي د تکامل او عروج د پړاووپه تېرولو سره د پوهي، کتو او اروېدو ومرحلي ته رسېدلي ده، دا سمه او ریښتیا خبره ده . که وویل سي، چي له خوړو سره نور یوځای سوئ دئ؛ او هغه نور د پوهي، لیدو او اروېدو د صفتو په ترلاسه کولو سره د پرمختګ او عروج مراتبو ته رسېدلئ دئ، دا هم ریښتیا خبره ده۲۶.

شېخ نسفي، وروسته دي پوښتني ته د جواب ورکولو هڅه کيي، چي انسان څو ارواوي لري؟ د ده په وینا، د شریعت او حکمت د پلویانو له نظره، ځیني کسان درې ارواوي لري، چي دا د ناقصانو ډله ده . ځیني کسان څلور ارواوي لري ، چي دا د مقتصدانو ډله ده . ځیني نورپینځه ارواوي لري، چي دا د کاملانو ډله ده .

د شېخ نسفي په اند، هرڅوک ( کامل یا ناقص) یوازي یوه اروا او یو جسم لري؛ خو دا روح په بېلابېلو پړاوو او مرتبو کي جلا جلا نومونه لري . د انسان اروا د امر په عالَم یا علوي عالَم پوري اړه لري . د دې پر خلاف، جسم په سفلي عالم یا د خلګو په جهان پوري اړه لري . شېخ نسفي، د انساني اروا فلسفي او عرفاني مفهوم ته ترڅغلنده نظر وروسته، په یوه په زړه پوري بیان کي د انساني روح د پیدایښت پړاونه په دې ډول شمېري : « پوهېږو، چي انساني اروا هغه لطیف جوهر دئ، چي د وېشلو او تجزیي وړ نه دئ؛ نه یوازي د امر له عالَمه راغلئ دئ؛ بلکي په خپله د امر عالَم دئ . حق تعالی د اروا د مراتبو او پړاوو دپاره، هغه نوراني زُبدې یا چکیدې ته وکتل، هغه شیره و ایشېده لومړی د خاتم الانبیأ روح، بیا د اولوالعزمه پېغمبرانو[ نوح ، ابراهیم، موسا او عیسا علیهم السلام ] ارواوي، وروسته د نورو رسولانو او نبیانو ارواوي؛ او تردې وروسته په وار سره، د اولیاوو، عارفانو، زاهدانو، عابدانو او مؤمنانو او په پای کي د اور، هوا، اوبو او خاورو ارواي ځني پیدا سوې . رب جلیل له هري اروا سره څو ملایکي هم پیدا کړې؛ اوپه دې توګه یې د ملکوت د عالَم مفردات بشپړ کړه . »

شېخ نسفي، پر انساني اروا سربېره ، د جسمو د پیدایښت په اړه هم خورا په زړه پوري استدلال کړئ دئ . د ده له نظره، جسم کثیف جوهر دئ؛ له دې امله د وېش اوتجزیي وړ دئ . الله تعالی هغه ظلماني جوهر ته وکتل . له دوښا او عصارې څخه یې په وار سره دغه جسمونه پیدا سوه : عرش، کرسی، اووم اسمان، شپږم اسمان، پینځم اسمان، څلرم اسمان، دریم اسمان، دوهم اسمان، اول اسمان، بیا د هغه له شیرې او خلاصې څخه اور، هوا، اوبه او خاوره پیدا سوه . په دې ډول، د شهادت او ملکوت اته ویشت مفردات بشپړ سوه . له دوی سره درې مرکبونه : کان، نبات او حیوان ؛ د الفبأ اته ویشت توري، او د نوم، فعل او تورو مرکبونه پیداسوه ۲۷.

شېخ نسفي، د ارواوو د مقامو په باب هم خورا ژوري نظریي لري . د ده په اند، عرش د خاتم الانبیأ، کرسی د اولوالعزمه پېغمبرانو، اووم اسمان د رسولانو، شپږم اسمان د انبیاوو، پینځم اسمان د اولیاوو، څلرم اسمان د معرفت د څښتنانو، دریم اسمان د زاهدانو، دوهم اسمان د عابدانو، اول اسمان د مؤمنانو مقام سو؛ او څلور ګوني طبیعتونه د څلورو عناصرو ځای وګرځیدئ . په دې توګه، تر ټولو لوړ مقام عرش او تر ټولو کښته ځای خاوره ده .

شېخ نسفي، د انساني اروا د بشپړتیا په باره کي د شریعت، حکمت او وحدت د پلویانو نظریي، په دې ډول پرتله کيي : د وحدت څښتنان وایي، د انساني اروا کمال حد او نهایت نه لري . که څوک زر کاله هم په زده کړه، مجاهده او ذکر اخته یي؛ هره ورځ به ډېر نوي نوي څه زده کي . شېخ نسفي د شریعت د پلویانو له نظره، د انساني اروا پړاوونه داسي ښيي : « که انسان د خپلي اروا له ټولو ښېګنو او ورتیاوو سره سره پر انبیاوو باور وکي؛ او د هغو لار غوره کي، داسي څوک د مؤمن اروا تر لاسه کيي . که د انبیاوو پر تصدیق او تقلید سربېره

ډېر عبادت هم وکي، داسي څوک د عابد مقام ته رسيږي؛ او عابده اروا تر لاسه کيي . که يي له ډېر عبادت سره، د دونيا له مال او دولت، شان او شوکت، لذتو او شهوتو څخه هم سترګي پټي کړي، داسي شخص نو د زاهد انسان اروا مومي . کله چي پر زهد سربېره، هر څه په واقعي بڼه وپېژني؛ له تقليد څخه تحقيق ته ورسيږي، داسي څوک نو د عارف اروا ترلاسه کيي . که پر دې معرفت سربېره، حق تعالی د خپل نيژدې والي، ميني او الهام پېرزوينه هم پر وکړه، بيا نو داسي څوک د ولايت مقام ته رسېدلئ دئ؛ او د ولي اروا يي تر لاسه کړې ده . هغه څوک د نبي د اروا ښتن بلل کيږي، چي د خدای تعالی له خوا د وحي او معجزې په سترو او خارق العاده کارو وياړل سوئ يي؛ او دا واک يي تر لاسه کړئ يي، چي انسانانو ته الهي پيغام ورسيي . که خدای تعالی خپل پيغمبر پر نبوت سربېره، د کتاب په ورکولو سره هم ځانګړی کړئ يي، د هغه روح د رسول اروا ده . که يي رسولانو ته پرکتاب ورکولو سربېره ددې واک هم ورکړئ يي، چي د نوي دين په رامنځ ته کولو سره، مخکنی شريعت له منځه يوسي، بيا نو د هغه اروا د اولوالعزم پيغمبر اروا ده . د شېخ نسفي په باور، دانساني روح معراج د خاتم الانبيأ ارواده، چي دين يي تل تر تله د ټولو انسانانو لاربښوونکي دئ٢٨ . د حکمت پلويان هم د انساني اروا د عروج او بشپړتيا پراونه تر دې ډېر نه بولي؛ خو هغه په بېلو نومو ياديي . د دوی په فکر، دا نه مرتبې د پوهي او پاکی مرتبې دي . د هر چا مقام د هغه د پوهي او پاکی په اندازه دئ . د وحدت پلويان، د انساني اروا په عروج او بشپړتيا کي هيڅ ګچه او اندازه نه مني . که انسان زر کاله عمر هم ولري؛ او تل په رياضتو او کوښښو اخته يي، بيا هم هره ورځ نوې نوې پوهه زده کيي . له دې خبري څخه دا نتيجه اخيستل کيږي، چي د انسان اروا تل د بشپړتيا په حال کي ده؛ او هيڅکله وروستي کمال ته نه رسيږي . دا ځکه چي د وحدت د فلسفي نظريې پلويان، د حق تعالی ابدي او ازلي وجود ته، د يوې ناپايه او بې انتها هستی په سترګه ګوري . د دې بې سروپايه سمندر تل ته رسېدل؛ او د هغه په باب بشپړه پوهه موندل، د هرچا تر وس وتلئ کار دئ . د شريعت او حکمت پلويان، د انساني اروا په بشپړتيا کي حد او اندازې ته قايل دي٢٩.

شېخ نسفي، د انساني اروا کمال او بشپړتيا په دغو څلور شيانو کيويني :

نېکي ويناوي، نېک عملونه، نېک اخلاق او نېک معارف .

شېخ نسفي باور لري، چي جسم موقتي ژوند لري؛ خو اروا ذاتي . خدای تعالی تر هر څه مخکي د حضرت محمد ( ص) روح پيدا کړه؛ او بيا يي د هغې له مخي ګرده مخلوقات او موجودات پيداکړه٣٠.

د پښتنو مفکر عرفاني لاربښود - پير روښان اورمړ ( ٩٣١ - ٩٨٠ هـ ق) په خپل مشهور عرفاني اثر « مقصود المؤمنين » کي د ايمان، خوف، رجأ، توکل، توبې، تزکيې، معرفت، زړه او نورو تر څنګ، د روح د بېلابېلو ډولو په باب هم پراخي او ژوري خبري کړي دي . هغه د اروا په دې عرفاني ډولو کي د « مقيم روح »، « جاري روح » او« اضافي روح » نومونه اخلي . له « مقيم روح » څخه د ميا روښان مقصد هغه اروا ده، چي د مړيني پر وخت له تنه بېليږي . د ده د عرفاني ډکتورينو له مخي « جاري روح » هغه اروا ده، چي په جاري توګه، د خوب پر مهال له بدنه وزي؛ او د ويښېدو پر وخت بيرته ننوزي . پر دې سربېره، پير روښان د « روح الامين » د اصطلاح يادونه هم کيي؛ او هغې ته د « روح اضافي » نوم ورکيي . دغه راز د انسان، حيوان، نبات او جماد ځانګړتياوو ته په پاملرني سره، د ناطق روح، صامت روح، جسمي روح او رسمي روح اصطلاح ګاني هم کاريي، چي ناطق اروا د انسان دپاره، صامت روح د حيوان دپاره، جسمي روح د نبات دپاره او رسمي روح د جماد دپاره ده .

زمونږ اندېښه پرداز عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، هم په خپل ديوان کي د روح مرموزه فلسفي او عرفاني پديده، په خورا ژورتيا او هونرمندئ سره څېړلي ده . هغه، په يوه غزله کي د ژونديو او ظريفو مثالو په وړاندي کولو سره، د روح مرموزه دونيا د پېچلتيا او تيارو له پردو څخه راباسي؛ او په ډېري ژورتيا او نازک خيالئ سره، د خپلو غزلو په بېلابېو ميسرو(مصرعو)کي د دې فلسفي او عرفاني مسألي په باب و مختلفو پوښتنو ته په زړه پوري جوابونه وايي . مخلص، په دې بيتوکي استدلال کيي، چي ټول انسانان او ګرده موجودات په يوه اروا پيداسوي دي . دا اروا د يوه ناپايه او بې مثله درياب په څېر، دکايناتو پر ټولو موجوداتو راګرځېدلي ده، د ګردو عالموزيست او ژوند په همدې اروا پوري تړلئ دئ؛ او د کايناتوهرڅه، د دې اروا تر واک لاندي دي . دا اروا په حقيقت کي د حق تعالی همېشنی ، لويه او ناپايه هستي ده . په يوه اروا د انسانانو د پيدايښت مسألي ته د نسآء د سورې د لومړي آيت ( ۴ : ۱) په يوه برخه کي داسي ګوته نيول سوې ده : « ... خلقکم من نفس واحدة ... » ياني تاسي يې له يوه نفسه پيدا کړي ياست . مخلص، په دې غزله کي د انسان د اروا او جسم ژوره فلسفه، داسي تصوير کړې ده :

په يوه وجود موجود شــه
که حيوان، جماد، عدس دئ
حق ارواح د لوی انسـان شه
روح يي سور تـن يي فرس دئ
د انسان ارواح کعبه شه
خواطر بانـدي اطـلس دئ
نوی نوی اطلس مـومي
اِستاده په خـپل جـوس دئ
روح لطيف مثال لـيده شه
دی مظــهر د کس نـاکس دئ
د آب مخ يي پوشـيده که
اندېښه پــرتو پــري خس دئ

په بله ښايسته غزله کي بيا هم د يوه په زړه پوري عرفاني او فلسفي تصوير په وړاندي کولو سره، اروا له هغه « محيط بحر » سره تشبيه کيي، چي د انسان او نورو موجوداتوپه ګډون، پر ټولو کايناتو راګرځېدلئ دئ؛ او د هر شي د حيات او ممات منشأ ده :

روح خارج نه داخل ياد دئ په صــورت کښي
د حق هسي رنګ کُليات سره نظيردئ
روح درياب، صورت ماهی دئ په درياب کښي
هم پکښي هم تري چوپېر د بحـرنـير دئ
دا محيط دريا ارواح، عالَم صــورت شه
دا عظيم ارواح د جسم په تد بـيردئ
دا صورت لکه قلم د روح په لاس کښـي
حرکت، فعل يي واړه له دبير دئ

په خپل خواست يې کښېنوي، هم يې ولاړ که
دا غريب صورت د روح په لاس اسير دئ
بل ځاى د قرآني نصوصو په رڼا کي د جاري او مقيم روح بېلابېلي ځانګړتياوي او اړخونه، په داسي ژورتيا سره بيانيي :
نن خبر شه د جاري روح له صفاتـه
دی په ذات عليم، ګويا دئ له اصواتـه
دی بينا، شنوا، توانا شه بي ګمانه
ارادت، حيات اووه دي اُمهـا ته
دا اووه يې کُل صفات د اُمـهات دي
فرزندان د دې اوو دي بې غـايـاته
چي په خوب کښي روح جـاري ووزي له تـنه
دا لس واړه ورسره په کُل حـالاتـه
روح مقيم پکښي مقيم عِلم يي نـه وي
بينايي، شنوايي شي ځني وفـاته
روح جاري تمام صورت ګوري پـه خوب کښي
ورسره وي د صفات هفت اُمهـا ته . . .
***
روح جاري يوه عـالَم مثـال ته کـوچ که
دوباره به بيا ورنشي تر سُباتـه . . .
***
دا سړی روح جاري دئ شک پې مـه کړه !
ذات، صفات، نفس ځرګنـد د ده له ذاتـه
دی له امره شه موجود، وجود يې ونيـو
بقايي ده تل ته تله پري اثبـا تـه
دی په خوب کښي په هغه جهان ګذر کـه
د هغه جهان احوال وايي هر چـاتـه
چي فلانه دئ په دوزخ کي ليـدل شوئ
د فلانه نعمت حاصل و له جنـا ته . . .
حق په هر ه شپه ارواح قبض که په خوب کښي
دا کلام دئ ثابت شوئ له آيـا تـه
خوب نفخه اول اعتبار کړه په جهـان کښي
ويښېدل ثاني نفـخه له حشراتـه
مرګ، ژوندون په لوی قادر هسي آسـان دئ
لکه خوب، ويښوالی دئ مرګ له حيا ته . . .

په یوه غزله کي د کامل پیر د لاربښونو او تلقین په لړ کي بیا هم د جاري او مقیم روح ځیني ځانګړتیاوي داسي را ښیی :

د روحانو حقیقت به ور څرګــند شـي
مقیم روح د حیوان یو، جاري تفریـده
د مقیم په مزي هر حیوان پیــیلئ
یګانګي په مقیم روح وینم پدیـده
جاري روح د هر انسان جُـدا جُـدا دئ
ځکه خون د حُسین وشه له یزیـده
رنځ، راحت له جاري روح سره موجود دئ
مقیم روح له دواړو خلاص په تن دمیده
چي د روح مقیم له اصله خبر دار شــي!
لاهوتي نامه پر ده باندي سهــي ده . . .

له صورت او زړه سره د اروا خپل منځي اړیکي د مخلص په یوه بله ښکلي غزله کي داسي انځور سوي دي :

عالَم تن انسان یـــــي زړه دئ
زړه د روح ګوښه خلوت شـه
تن په زړه، زړه په روح پایي
یو د بل په ځان صحبت شـه
د سري ژونـــــدون ارواح دئ
بي ارواح وران وغارت شـــه

د ټولوعالَمو د اروا په توګه، د پروردګار بي ساري هستی ته رسېدل، د مخلص د عرفاني نړۍ لید اصلي او محوري مسأله ده . له دې امله، هغه تل په خپل عارفانه کلام کي هغه چا ته په لوړه او درنه سترګه ګوري، چي ځان یي د نوس او شیطان له لومو ژغورلئ یي؛ او د روح په لوړ جهان پسي غوټي وهي :

چي د نوس لښکر زبون که او مقهور شیطان مغبون که
روح بادشاه په اندرون که اوس زیبـا ده د مرد لاپه

مخلص، د روښاني طریقت له لارښونو سره سم، د « اضافي روح » یا « روح الامین »، په بیان کي داسي وایي :

دا امین روح اضافي، علیم، حکیم دئ
په دا روح شوه د آدم ورځه ســخته
معلم د کل آسمان نایب د حق شه
شه مسجود د ملایک له تاج وتخته

مخلص، په یوه غزله کي هغه حقیقت ته د عرفاني سالکانوپام اړیي، چي انساني نَفْس د ناوړو کاروپه کولو سره په واقعیت کي د انحطاط او نابودی لار غوره کیي؛ او د نېکو کارو په کولو سره د کمال او بشپړتیا پر

لور ګامونه ايږدي . عمل د انساني اروا د ښه والي او بدوالي محک دئ . همدی استدلال ته په پاملرني سره،
مخلص  اروا د صورت؛ او معرفت د اروا زېب و زينت ګڼي :

روح قيمت د معرفت په سبب مومــــي
چي يې نن د خپله ځانه خبر بيـاموند
***
چي د روح په بقايي قايـله نه وي
له هغه جاهله څه پر کنار اوسه!

مخلص، په يوه غزله کي د زړه، نْفْس او اروا  ژور عرفاني مفهومونه، په داسي ژوندي او نازک خياله
انځورکي پرتله کيي :

چي عرفـان يې روزي نــه وي
زړه يې مه ګڼــه غوجل شه
روح يې پلار، نفس يې مور ده
زړه فرزند تر ميان داخل شــه
که د مور په نغوته چـــار که
نفساني دئ ناقــابل شـــه
چي د پلار په امر درومـــي
روحاني بالا منـزل شـــه
روح ونفس په يوه تن کښـي
په خويي له روح فاصـل شـه

مخلص، د دي نبوي حديث « خلق الارواح المؤمنين من نور جماله و خلق الارواح الکافرين من نار
جلاله۳۱ » په استناد، د وحدت ژوره فلسفه داسي  بيانيي :

د دريا د وحـدت لـوی دئ
بې پايـانه پرهر سوی دئ
کُل د ده له موجــه وشوه
که بد خوی دئ که نېـکخوی دئ
د يوه درياب ځپــي شوي
که زشت رويه که خوشـــخوی دئ
د دي درياب دوه مـوجه
يو جلال يې تل جنـګجوی دئ
بل دوهم موج يې جــمال شه
پرموجود نېـــکخو خوشبوی دئ
کافر شوئ له جـلاله
ناري نار ته تـک وپوی دئ

بل ځای، د زړه او اروا عرفاني مفهومونه، د یوې پدیدې دوه نومونه ګڼي، چې په ماهیت او ځتې کې توپیرنه لري :

روح له زړه سره یو ځیز نامي يې دوې شوې

لکه عِلْم، عقـل یو فرق يې کم بابه

د روح پېچلي او مرموزه مسأله ، زموږ د مفکر عارف، علي محمد مخلص، په پارسي شاعرئ کي هم په پراخه توګه شنل سوې ده . مخلص هم د وتلي عرفاني صاحب نظر، شېخ عزیزالدین نسفي، په دود په خپل ارزښتناک عرفاني او تاریخي اثر « حالنامه » کي د اروا ټول ډولونه د هغو له ځانګړتیاوو او صفتو سره بیان کړي دي؛ او دایي یو پلابیا هم په ډاګه زبات کړې ده، چې په هره عرفاني او فلسفي مسأله کي تر هیچا کم نه دئ .

مخلص، په عمومي توګه د روح ځلور ډولونه بیانیي :

« ... روح در عالم چار است این بدان

شد جمادی هم نباتی در جهـان

سیومی ارواح حیــوانی بود

چارمی ارواح انسانــی بود۳۲... »

مخلص، جماد هم د اروا ښتن بولي؛ او داسي يې پېژندنه کیي :

« ... سنگ از روح جمادی هست ببین

منجمد گشته ازین روح کُن یقین۳۳ ... »

مخلص، د نباتي روح په باب داسي وایي :

« ... گوش کن روح نباتي در نبــات

آن نبات از وی همین دارد حیــات۳۴ ... »

مخلص، په ژووکي د ژوند او خوځښت ځواک، د حیواني اروا یا مقیمي اروا په نامه یادیي :

« ... روح حیوانی که حیوان را از و

حی و قایم میرود از کوه بکوه۳۵...»

مخلص، ناطقه نفس یا د انسان د خبرو ځواک، د انساني اروا په نامه یادیي :

« ... روح انسانی در انسان آمـده

آدم ناطق ببــین ز آن آمـده

روح در انسان چون بو در گل

یا چون مستی دان که او اندر مل است۳۶ ... »

مخلص، په انساني کالبوت کي د اروا درو بېلو ډولو ته داسي اشاره کیي :

« ... روحها در تن بدانی سه بــود

در میان روحها کِه، مِه بــود۳۷... »

مخلص، ددي درو ګونو ارواوو په ډله کي د انسان جاري روح د پوهي او عقل ښتنه ګڼي . دې اروا ته د داسي لطیف جسم په توګه ګوري، چې په سترګو نه ښکاري؛ د خوب پر مهال د انسان له وجود څخه بېلیږي؛ او د ویښېدو پر وخت بیرته ورځي؛ د مریني او نابودئ له خطره خوندي ده؛ همدا اروا له هغي ستري او بې مثله اروا سره همښنی اړیکی لري، چې د کایناتو ټولي ارواووي په هغه پایي :

« ... عقل و دانش نیز باوی شد رفیق

جسم دارد بس لطیف بس رفـیق

روح جاری دان از آنکه گفـته شد

حس ده گانه بر او بســته شد

وقت خواب او میرود از تن بــدر

باز آید وقت بیــداری نگــر

حق تعالی زو پرسد خیر و شـــر

هست با او عقل و دانــش ای پسر!

هست باقی آن نمیرد هیچ گـاه

یا بود بر تخت یــا در قعر چاه

***

چون براید روح جـــــاری وقت خواب

تن به مثل مرده باشد بـــی جواب

روح جاری صاحب خانه بـــدان!

کوشناسد این فلان است آن فـلان !

روح جاری روح انسانی بـــود

روح مقیمی روح حـیوانی بـــود

روح انسانی که نفس ناطـق است

عارف بینا بذات مطـــلق است ۳۸... »

مخلص، مقیم روح د داسي اروا په ځبر بیانیي، چي د انسان او حیوان جسمونه د هغې په مرسته ژوندي او ولاړ دي؛ خو د جاري روح په شان د تمیز او تفکیک واک نه لري . مخلص، د جاري روح پر خلاف، چي د کور له خاوند سره يي تشبیه کيي، مقیم اروا د کور له ستونو سره ورته ګني، چي د پيژندګلوۍ او تمیز وس نه لري . د ده کلام دئ، چي وایي:

« ... روح مقیم هست دیگر روح بدان

می براید وقت هر دم آن روان

جسم زو قایم بود حـــی ای عـــزیز!

لیک اورا نیست چـــون جاری تــمیز

چون ستون است خانه را بـــدان!

کی ستون داند عدو از دوستان۳۹ ... »

مخلص، د پیر روښان د عرفاني نظریو په پیروۍ د اروا دریم ډول ته د « روح الامین اضافي » نوم ورکيي؛ او د داسي اروا په توګه ورته ګوري، چي عرش او کرسی يي تر پښو لاندي دي :

« ... سیومی روح است آن روح الامین

هست آن دریا محیط ما وطین

به این روح است دایم متصـــل

هیچگاه ایشان نگردد مــنفصل
روح اعظم مر اضــافی نام اوست
عرش و کرسی در ته اقدام اوست
حی و معنی اوست در عــالم ببین
جمله عالم او جــانست همین۴۰ ... »

د نورو مالوماتو دپاره وگورئ : نفس، زړه، د محیط بحر، د حیوان بحر، پوهه او عقل، عرفان اومعرفت .

لمنلیکونه

١ عمید ٢: ١٢۶۵ ؛ Wehr 365.
٢ عمید ٢: ١٢۶۵ ؛ Wehr 364.
3 Rasheed 29.
۴ سجادی ١۵١.
۵ سجادی ٢٣۵.
۶ جوادی، فتوحات مکیه ، حاشیهٔ صفحهٔ ٢٣٧.
٧ القرآن الکریم ، پښتو ترجمه او تفسیر ، د مولانا سید عبدالله شاه په سمون ٩١٨ .
٨ سجادی ٢٣۵ .
٩ عطار، دیوان عطار ١۵١.
١٠ عطار، دیوان عطار ١۴٩.
١١ عطار، دیوان عطار ١۵١ .
١٢ ا بن عربی ٢٣۴.
١٣ نسفی، کشف الحقایق ۵٠.
١۴ نسفی، کشف الحقایق ٧۴.
١۵ نسفی، انسان ا لکامل ١٧ .
١۶ نسفی، انسان ا لکامل ٣٨٧ .
١٧ نسفی، انسان ا لکامل ٢٠، ٢٢.
١٨ نسفی، انسان الکامل ٢٧.
١٩ ژباړه : دا ټبل دي، چي ( په خپلې پاکی او صفا سره) روښا کيي، که څه هم اور نه يي ور رسېدلئ .
٢٠ ترجمه : الله (ج)په دغه نور سره هر هغه چا ته، چي و غواړي لارښوونه کيي .
٢١ نسفی، انسان الکامل ٢١.
٢٢ نسفی، انسان الکامل ٢٢.
٢٣ نسفی، زبدة الحقایق ٩۵.
٢۴ نسفی، کشف الحقایق ١٠٨؛ نسفی، زبدة الحقایق ۵٠ - ۵١.
٢۵ نسفی، زبدة الحقایق ۶۵.
٢۶ نسفی، انسان الکامل ٢٣- ٢۴.

۲۷ نسفی، انسان الکامل ۵۷ .

۲۸ نسفی، زبدة الحقایق ۹۲ – ۹۳ .

۲۹ نسفي انسان الکامل ۳۰ - ۳۱؛ نسفی، زبدة الحقایق ۵۸، ۹۳- ۹۴ .

۳۰ نسفی، کشف الحقایق ۷۰ .

۳۱ ژباړه : د مؤمنانو ارواوي يي د خپل ښايست له نوره پيدا کړي؛ او د کاپيرانو( کافرانو) ارواي يي د خپل جلال له اوره پيدا کړې .

۳۲ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۳۴۹ .

۳۳ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۳۴۹ .

۳۴ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۳۴۹ .

۳۵ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۳۴۹ .

۳۶ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۳۴۹ .

۳۷ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۳۴۸ .

۳۸ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۳۴۸ .

۳۹ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۳۴۸ .

۴۰ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۳۴۸ .

پاته لري